# عجایب الاخبار
# د مسعود گل پيښوري تاليف

هغه وخت چي د پيښور ولايت لا د افغانستان له تنه نه ؤ بېل سوئ، او افغاني سردارانو هلته حکومت کاوه دغه کتاب په فارسي ژبه په پيښور کښي تاليف سوئ دئ، او يوه خطي نسخه ئې ما په پيښور کښي ليدلې وه، چي دلته ئې د محمدزو د اولني عصر په تاليفاتو کښي معرفي کوم. ځکه چي تر اوسه دغه کتاب چا نه دئ پېژندلئ نو د افغانستان په علمي آثارو کښي د دې کتاب پېژندنه گټه وره راته ښکاري.

د عجايب الاخبار خطي نسخه په معمولي او خوانا نستعليق په (٤٦٧) مخه کښي د فل سکيپ کاغذ په تقطيع لکيلی سوې او هر مخ ئې له (١٥) څخه تر (٢٠) کرښي لري.

دغه نسخه د محمود سلطان په خط ده چي د ده زوی محمود گل په پيښور کښي د خليفه ذاکر په نامه مشهور ؤ، او د پيښور روحاني کورنۍ وه. د کتاب مؤلف مسعود گل د قاضی عبدالرحمن پيښوري زوی دئ چي په (١٢٢٦ هـ) کال ئگې عجايب الاخبار د سردار محمد عظيم خان په نامه شروع کړئ دئ دا کتاب د انبياؤ تاريخ او د هندوانو او نورو اقوامو عقايد او د حضرت محمد (ص) او خلفای راشدينو احوال او د قيامت د راتلو بيان لري. ژبه ئې متوسطه فارسي ده په ځينو مخو کښي تاريخي وقايعو او د خپل عصر احوالو ته هم اشارعه کوي او بعضي مطالب ئې د هغه عصر د روحی او اجتماعي اوضاعو د ښکاره کولو لپاره مفيد دي مسعودگل د دغه کتاب په ليکنه کښي خپل ماخذ داسي ښيي :

له تفاسيرو څخه :

تفسير کبير، تفسير برهان الدين، تفسير جلال الدين سيوطی، معالم التنزيل، بيضاوی، تفسير حسينی.

له احاديثو څخه :

صحيح بخاری، مشارق الانوار، مواعب لدنيه، جامع البرکات، مصابيح.

په خپلو ماخذو کښي د شيخ محمد عمر چمکنی د يوه کتاب ذکر داسي کوي ( دا سړی د احمدشاه بابا پير او استاد ؤ.)

" و ازکتابهای عقايد خصوصاً از شرح امالی که از مصنفات قطب اظهر و غوث اکبر حامی المله و الدين زينت افزای شرع حضرت رسول اکرم صلی الله وسلم ميان صاحب موضع چمکنی که اسم مبارك ايشان حضرت شيخ محمد عمر الاويسی النقشبندی قدس الله سره العزيز است اين رساله را جمع کردم."

د کتاب په مقدمه کښي داسي وايي :

"بعد از ثنا و سپاس پرودگار ... ميگويد بنده رب المعبود مسعود گل ابن قاضی عبدالرحمان پشاوری که چون سنه يکهزار و دو صد و بيست و شش رسيد قحطسالی در اطراف و اکناف عالم پيدا شد خصوصاً در شهر پشاور گرانی غله بنوعی رسيد که مردمان از خواص و عوام از گرسنگی و دل تنگی ملول و بفرياد و زاری بدرگاه باری جل و علا شانه بدعا و تضرع مشغول و ضعيفان و يتيمان و بيوه زنان هم اوقات در دربار امير کبير صاحب حشمت و شوکت رونق افزای تاج و سرير سلطنت امير الامراء العظام اسوآ الکبرای الفخام سردار سرداران سردار محمد عظيم خان درانی بارکزائی باستغاثه می آمدند و ارزانی غله ميخواستند ... پس سردار کثير الاقتدار با چند

اعزه خوانین درانی و پشاوری مشورت کردند ... و برای نماز استسقا جانب مسجد جامع که بنای آن مسجد از شاه دران احمدشاه مرحوم است شدند ... و اهل فضل از خوانین درانی و سادات کابل و علمای پشاور هر یك مناسب حال و بقدر مجال ... بیان کردند و سردار کثیر الاقتدار را بتوجه تمام در گفتن و شفتن این مسایل راغب تردیدم ... بنا بر آ کتاب را بلباس فارسی بعنوان ایجاز و اختصار بطریقه تحفه در خدمت سردار موصوف آوردم امید که بنظر لطف و احسان مطالعه نمایند ... و این رساله را عجایب الاخبار نام نهادم.

د کتاب (٤٤٧) مخ کښي د وزیر فتح خان دفاعی جنګ له سکهانو سره یادوی او پښتونستان د خلقو تشویش او اضطراب د سکهانو له حمله څخه داسي ښيي :

"و میگویند این بنده ضعیف مسعودګل ابن قاضی عبدالرحمان محتسب پشاوری که در سنه یکهزار و دو صد و بیست و هشت سکهان از جانب هند خروج کردند تا قلعه اتك رسیدند و اعلام دین را درین قله منهدم ساخته ... و ریئس ایشان رنجیت نام کور چشم افواج کثیره متعاقب یکدیر میفرسد. اهالی شهر پشاور .... و غازیان جنگ میکنند بواسطه آنکه حامی دین متین اند و فوج فوج برای غزا میروند وزیر بی نظیر صاحب السیف بعد از فتح کشمیر متوجه بجانب سکهان شد محمد فتح خان درانی بارکزائی و قشون سنگین برای حمایت دین از درانی و افاغنه پشاور و یوسفزائی و علماء و سادات عظام و مشایخ ذوالاحترام زیاده از شصت هزار سزار و پیاده جمع کرده و این جمع غازیان را از نفقه و خوراکه و پوشاکه و اسپ امداد بوجه اکمل میکنند چون غازیان جوق جوق از اطراف و اکناف می آید لهذا چند روز در حدود چهچه که پرگنه اتك است بر لب دریا توقف نمودند بعد این هر چه بظهور آید اګر زندګانی وفا کند در قید قلم خواهم آورد."

د عجایب الاخبار له بیانه ښکاري چي په هغه وخت کښي هم د پښتونستان د مځکی د دفاع لپاره ټول افغانانو له کندهار او کابله تر اټکه په ګډه جهاد کاوه او ټولو پښتنو مقدرات سره مشترك وه د کندهار درانیان هم د اټك پر غاړه له متجاوزینو سره جنګېدل د دې لپاره چي د خپلو ورونړو لوسونفریو او پېښور د ولایت د ټولو خلکو آزادي وروساتي او د پښتنو مشترك مقدرات ورخوندي کړي[1].

[1] آریانا مجله، ١٣٤١ کال، لمړي شماره، ٨ _ ١١ مخونه.